دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

آیا انسان ګمان کوي چې مهمل او بابیزه پرېښوول شي؟ آیا دهغې مني چې په (رحم کې) توی شوی یو څاڅکی نه و؟ بیا د وینې یوه ټوټه وه، الله پاک پیدا او ښه برابر یې کړ. او له همده څخه یې د نر او ښځې جوړه وراندې کړه. آیا همدغه ذات توانا نه دی چې مړي راژوندي کړي؟ هو توان ورسره شته. (الدهر: ۳۵ - ۴۰ آیتونه)

درس حدیث

له معاویه رضی الله عنه نه روایت دی چې ما عائشې رضی الله عنها ته یو لیک ولیږه چې ماته داسې یو لیک ولیکه چې څه نصیحت پکې راته وکړې او زیاتوه یې مه. نو هغې راته ولیکل: په تا دې سلام وي، له سلامه وروسته خبره داده چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې فرمایل یې: "چا چې د خلکو په ناراضه کولو کې د الله رضا ولټوله نو د خلکو له کړاوه به ورته الله بس شي او چا چې د الله په ناراضه کولو کې د خلکو رضا ولټوله نو الله به یې خلکو ته ور وسپاري" او په تا دې سلام وي. (ترمذي)

شهادت دریم کال، ۱۱ مه ګڼه، پرله پسې ۱۱۱ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د غبرګولی ۱۸ مه د۱۴۳۲ هـ ق د رجب ۷ مه د۲۰۱۱ م د جون ۸ مه

د دوديزې لويې جرګې د چمتووالي کمېسيون غړي وټاکل شول

کابل، پژواک:
یو دبرش تنه د دوديزې لويې جرګې د چمتووالي د کمېسيون د غړيو په توګه وټاکل شول.
یاد کسان د جمهوري رياست د غبرګولي د ۱۶مې نېټې د حکم له مخې د دې جرګې د غړو په توګه ټاکل شوي دي.
د مشرانو جرګې پخوانی رييس او د سولې د ټينګښت د ملي کمېسيون برحال رييس صبغت الله مجددي د غبرګولي په ۷مه نېټه د جمهوري رياست د فرمان له مخې د دغه کمېسيون د رييس په توګه ټاکل شوی وو.
د دغه کمېسيون په غړيو کې د ملي شورا او کابينې پخواني غړي او قومي مشران شامل دي.
مولوي خدايداد، نعمت الله شهراني، سيد حامد ګيلاني، ډاکتر همايون عزيزي، حوا علم نورستاني، صفيه صديقي، محمد عارف نورزي، شهزاده مسعود، همايون شينواري، محمدانور اسحاقزی، حاجي دين محمد، ريدا عظيمي،
پاتې ۳ مخ

ولسمشر کرزی به پاکستان ته سفر وکړي

اسلام اباد، پژواک:
ټاکل شوې، چې ولسمشر حامد کرزی د راتلونکې جمعې په ورځ پاکستان ته سفر وکړي.
په اسلام اباد کې د افغانستان د سفارت کولتوري اتاشه زردشت شمس د غبرګولي په ۱۷مه پژواک خبري اژانس ته وويل، چې د حامد کرزي د سفر لپاره د اجنډا جوړولو په موخه د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت مرستيال جاويد لودين پرون اسلام اباد ته رسېدلی دی.
د سرچينې د معلوماتو له مخې، لودين هڅه کوي، څو پاکستاني چارواکي پر دې قانع کړي، چې د ولسمشر حامد کرزي له سفر مخکې د پاکستان او افغانستان ترانزيټي تړون ته عملي بڼه ورکړي.
بلخوا د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت له خوا په يوه خپره شوې
پاتې ۴ مخ

اوباما با تیم امنیت ملی خود در باره جنگ افغانستان ملاقات کرد

باراک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا روز دوشنبه با تیم امنیت ملی خود ملاقات کرد تا در باره جنگ افغانستان گفتگوهای را انجام دهد.
اوباما و اعضای تیم امنیت ملی او در حالی تشکیل جلسه دادند که در نظر است به زودی در ارتباط به رقم سربازان امریکایی که از افغانستان خارج ساخته خواهند شد تصمیم گرفته شود.
بقیه در صفحه ۳

د ازبکستان له لارې سوداګرۍ کې سوداګر هر کال سوونه زره ډالر تاوان کوي

کابل، پژواک:
افغان سوداګر له دې لامله، چې ازبکستان د افغانستان صادراتي او ترانزيټي توکو ته په اورګاډو کې د لېږد اجازه نه ورکوي، په کال کې شاوخوا پنځه ميليونه امريکايي ډالر له لاسه ورکوي.
دا څرګندونې د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونې د عامل پلاوي مشر محمد قربان حقجو د غبرګولي په ۱۷مه پژواک خبري اژانس ته وکړې.
ده وويل، چې د ازبکستان اورګاډي د افغان سوداګرو وارداتي توکي حيرتان بندر ته راوړي، خو کله چې بېرته ستنېږي، خالي څي او د افغان سوداګرو صادراتي توکي نه لېږدوي.
حقجو وايي، چې دغه کار د ازبکستان د حکومت په غوښتنه له کلونو راهيسې تر سره کېږي.
د هغه د څرګندونو له مخې، ازبکستان غواړي، چې د افغان سوداګرو توکي په کېښتيو کې ولېږدول شي، څکه چې له دې لارې دغه هېواد ډېره ګټه تر لاسه کوي.
د ده په وينا، د افغان سوداګرو په هر کانټينر توکو باندې، چې په کېښتيو کې د ازبکستان مرکز ته لېږدول کېږي، په اورګاډي کې د لېږد په پرتله ۱۵۰۰ امريکايي ډالر زيات
پاتې ۴ مخ

خروج سربازان خارجی از مرکز ولایت هلمند آغاز شد

لشکرگاه، رسانه ها:
در راستاي طرح واگذاري تأمین امنیت افغانستان به نیروهاي داخلي، سخنگوي والي هلمند از آغاز خروج سربازان خارجي مستقر در شهر "لشکرگاه" مرکز این ولایت ناامن خبر داد.
"داوود احمدي" در گفت‌وگو با خبرنگاران اظهارداشت: نیروهاي خارجي برخي مناطق لشکرگاه را ترک کرده اند.
سخنگوي والي هلمند افزود: اردوی ملي و پولیس براي تأمین امنیت
بقیه در صفحه ۳

د افغانستان او پاکستان په ګډه پوله د مخالفینو تګ راتګ لا هم دوام لري

کابل، رسنۍ:
په داسې حال کې چې د پاکستان د استخباراتو اداره یا آی، ایس، آی، په بیابیا په دې تورونه شوې، چې افغانستان ته د وسله والو مخالفینو د اوښتو په برخه کې مرسته کوي، د ناټو ځواکونو چارواکي وايي، د پاکستان پوځي چارواکي هڅوي، چې افغانستان ته د وسله والو مخالفینو د اوښتو مخنیوی وکړي.
په کابل کې د ناټو ځواکونو ویاند جوزف بلاټس وویل، ټول په دې پوهیږي، چې په ګډه پوله وسله وال مخالفین تګ او راتګ کوي، خو نوموړي وايي په دې برخه کې له پاکستانیو چارواکو سره همغږې ډېره شوې ده: "موږ ټول پوهیږو چې یاغیان او قوماندانان یې د افغانستان او پاکستان له پولې تېرېږي. موږ د
پاتې ۳ مخ

د جنګيانو مياشت په رارسيدو ده!

دويم مخ

رئیس اکادمی علوم افغانستان در گفت وگو با فارس:

حضور دائمی امریکا در افغانستان منجر به جنگ منطقه‌ای خواهد شد

خبرگزاری فارس:
رئیس اکادمی علوم افغانستان با بیان اینکه مردم افغانستان با ایجاد پایگاه‌های نظامی دائمی امریکا در خاک این کشور موافق نیستند، گفت: ایجاد پایگاه‌های دائمی ممکن است به جنگ منطقه‌ای تبدیل شود.
"عبدالباری راشد" اظهار داشت: باید امریکایی‌ها امکانات و تجهیزات لازم برای پرورش نیروهای امنیتی و دفاعی نیرومند را در اختیار دولت افغانستان قرار دهند تا این نیروها، از منافع افغانستان، در مقابل تروریزم و افراط گرایی دفاع کنند و نیاز به حضور نظامی کشورهای خارجی در افغانستان نباشد.
راشد تصریح کرد: در صورتی که با
بقیه در صفحه ۴

قتلهای زنجیره یی و دستهای دخیل پشت پرده در آن

عزیز چوپان

بتاریخ ۷/۳/۱۳۹۰ جنرال محمد داؤود داؤود قوماندان زون ۳۰۳ پامیر در شمال کشور که غرض اشتراک در یک جلسه به تالقان رفته بود، بعد از ختم جلسه در نتیجهٔ یک بمب یا ماین جاسازی شده، همراه با شاه جهان نوری قوماندان امنیهٔ ولایت تخار و چند تن دیگر که دو نفر آن سربازان قوای آلمانی بودند، کشته شد. این قتل هم ناگوار بود و هم عکس العمل گستردهٔ بخصوص یک گروه را در پی داشت. گرچه گروهی که وی با آن وابستگی سیاسی داشت بیشتر سوگوار شد؛ اما حقیقت آن است که کشته شدن او برای بخصوص تمام نیروهای امنیتی کشور یک ضایعه تلقی گردید.

اصطلاح قتلهای زنجیره یی را قبل ازین به ارتباط قتلهای واقع شده در ایران شنیده بودیم، اما اینبار این اصطلاح در افغانستان هم بیشتر تکرار شد. قبل ازین انجنیر محمد عمر والی کندز هم در تخار کشته شد و بعد از او عبدالرحمن سیدخیلی قوماندان امنیهٔ کندز و به تعقیب آن جنرال خان محمد مجاهد قوماندان امنیهٔ کندهار که همهٔ اینها به خانوادهٔ بزرگ جهاد مقدس افغانستان ارتباط داشتند.

بعد از حادثهٔ تخار طالبان مسؤولیت حادثه را پذیرفتند و حوادث مشابه آن بیشتر یا به طالبان نسبت داده میشوند و یا اینکه طالبان خود مسؤولیت آن را می پذیرند؛ ولی در حقیقت، طالبان هر حادثه را ولو آنها از آن هیچ اطلاعی نداشته باشند و به هیچوجه من الوجوه در آن دخیل نباشند، ادعا میکنند و بخود نسبت میدهند که بیشتر اوقات همین ادعای عاری از حقیقت آنها، سرنخ را از آدمی گم میکند و معلوم نمیشود که عامل اصلی چه فرد ویا چه گروهی بوده است.

بهمین ترتیب اشاره هایی هم بسوی پاکستان شد که گویا این حادثه در آن طرف مرز یا بیرون از کشور که با حرف صریح آی اس آی پاکستان باشد، سازماندهی شده بود.

گرچه هر حادثهٔ اینچنینی که رخ میدهد، طبعاً هم سیمای طالبان در اذهان مجسم میشود و هم سیمای آی اس آی، چون ازین قماش حوادث بیشتر توسط همین مراجع صورت گرفته است؛ ....

بقیه در صفحه سوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

له ولسمشر کرزی څخه د علماؤ د شوری پرځای غوښتنه

د افغانستان د عالمانو شوری د وروستي ځل لپاره له ولسمشر کرزي نه په کلکه غوښتنه کړې چې طلوع تلويزيون او ۸ صبح ورځپاڼه وتړي، د علماو شوری ګواښ کړې چې که کرزی ددوی غوښتنه ونه مني نو ملت به عمومي پاڅون وکړي.

د عالمانو شوری ويلی چې په تېرو څو کلونو کې يې په پرله پسې ډول د غږيزو، چاپي او تصويري رسنيو، په ځانګړی ډول د طلوع تلويزيون د ديني او ملي ضد خپرونو په اړه خبرداری ورکړې خو په وينا يې هېڅ مسؤول چارواکی په دې اړه ګام نه دی اوچت کړې.

د عالمانو شوری د خپلې وروستی درې ورځنی غونډې په پرېکړه ليک کې ويلی: "طلوع تلويزيون په دې وروستيو کې د اسلام د دښمنانو په مالي مرسته د ديني افکارو د تخريب او د ځوان نسل د ګمراه کولو لپاره پراخ پروګرامونه پيل کړي زموږ د عقيدې اسلامي او ملي فرهنګ بربېدونه يې له ګواښ سره مخ کړې چې د خپرولو دوام يې د زغم وړ نه دی."

د عالمانو شوری چې له ولسمشر کرزی نه کومه غوښتنه کړې دا هو بههو د ولس غوښتنه ده په حقيقت کې ولس د ځينو تلويزيوني چينلونو د اسلام او ملي ضد خپرونو څخه څو څو کرته سر ټکولي ان تر دې چې د کابل يو اوسېدونکی دا هم ويلي وو چې د هېواد په ډېرو کورونو کې د هندوانو د بت پرستی رسم او رواج پيدا شوې دی هغه د خپلې لور يوه کيسې ته په اشارې سره ويلی وو چې يوه ورځ ګورم چې زما وړه لور پلاستيکی نانزيکی ته په ډېر احترام ولاړه ده او د هندوانو په څېر په ژړا ژړا تر ېنه د خپل مشکل د حلولو سوال کوي.

هغه ددې ټولو ملامتي په تلويزيون کې د خپرېدونکو هندي سريالونو او فلمونو اچولې وه چې زموږ د تنکي ذهن ماشومانو عقيده خرابوي او له بت پرستي سره يې عادتوي.

په حقيقت کې راډيو، تلويزيون، ورځپاڼې، رسالې او نورې رسنۍ د ولس د عقيدې، فرهنګ او ملي عنعناتو د ساتنې او ودې مسؤوليت په غاړه لري، د دنيا په هر ګوټ کې له دغو رسنيو څخه همدا ګټه اخستل کېږي چې د هېواد د مجموعی ګټو په نظر کې نيولو سره خپروني وکړي او هغه څه ولس ته وړاندې کړي چې دهغوی د عقيدې، فرهنګ، ملي يووالي، سلامتيا، اقتصاد، تعليم و تربيه، زراعت، حرفت، ساينس ټکنالوژي، سالم سياست او داسې نورو د ودې او غښتلتيا سره مرسته وکړي، خو ډېر افسوس چې په افغانستان کې بيا له دغو رسنيو څخه برعکس کار اخستل کېږي، او هغه څه خپرېږي چې د افغانانو معنويات او ماديات دواړه له منځه وړي.

ددې پر ځای چې د ماشوم په ذهن کې د اسلام، اخلاق، افغاني فرهنګ او د ښووني او روزنې تخم شين کړي د هندي فلمونو او غربي نړۍ له اخلاقه پرېوتي ډايلاګ او سندرې يکې زرغونوي، دا څومره د بدبختي خبره ده چې زموږ نسل د اسلامي لباس پر ځای هندي نيم بربنډ لباس اغوستو ته ترجيح ور کوي.

په ناسته ولاړه، خبرو اترو، رسم او رواج کې د هغوی تقليد کوي، د السلام عليکم پر ځای د هيلو او بای الفاظ استعمالوي، د کوژدن او ودونو مراسم د هندوانو په څېر ترسره کوي، لنډه دا چې په کلاره د افغانستان څخه د اسلامي کلتور او اسلامي فرهنګ لمنه مخ په ټولېدو ده. که له واقعيت نه ستر ګې پټې نه کړو نو ددې ټولو بدبختيو مسؤوليت د چارواکو، په ځانګړی ډول د اطلاعاتو او کلتور وزير پر غاړه دی.

له ولسمشر کرزي څخه د عالمانو د شوری وروستی جدي غوښتنه بالکل پر ځای ده، د افغانستان مسلمان نه يوازې دا چې د علماو د شوری د غوښتنې ملاتړ کوي بلکې د عمل په ډګر کې ورسره بشپړ ملګرتيا هم کوي.

چارواکی دې په دې واقعيت ځان پوه کړي چې افغانستان د پنځه لس لکو شهيدانو د وارثانو خاوره ده. د افغانستان مطلق اکثريت وګړي هېچاته اجازه نه ور کوي چې د اسلام او ملي ضد خپروني وکړي.

ښاغلی کرزی د همدغو اصيلو مسلمانانو ولسمشر دی نه د څو کسو اسلام او ملي ضد عناصرو، نو ځکه نه ښايي چې د ملت غوښتنې له پامه وغورځوي او دهغو څو تنو ګمراه عناصرو پلوي وکړي چې د اسلام او ملي ضد خپرونو ته يې ملا تړلې ده.

ښاغلی کرزی دې نور د افغانستان د مسلمان ولس د صبر امتحان نه اخلي، د صبر کاسه يې تر څوکو ډکه شوېده، ښه به دا وي چې د هېواد د علماؤ، سپين ږيرو او ولس غوښتنې جدي وګڼي او ژر تر ژره د رسنيو د قبلې د سمولو لپاره چټک ګامونه اوچت کړي. خپل اسلامي او افغاني مسؤوليت هم ترسره کړي او هېواد هم له نورو بحرانو څخه وژغوري.

د چنګاښ مياشت په رارسېدو ده!

سيد فضل مولی لټون

د ۱۳۹۰ هـ ل کال د وري د مياشتې په لومړيو کې د هېواد جمهور رئيس حامد کرزي د امريکا د متحده ايالاتو د جمهور رئيس باوک اوباما له ستراتېژۍ سره سم اعلان وکړ، چې په لومړي سر کې په امتحاني توګه د ځينې ولاياتو لکه باميان او پنجشير او ځينې ښارونو لکه کابل او مزارشريف امنيت افغان امنيتي ځواکونو ته سپاري، لکه چې همداسې يې وکړل او د همدې روان کال د چنګاښ په مياشت کې به افغان امنيتي ځواکونه د لازياتو سيمو او ولاياتو امنيتي پاڅه (مسؤوليت) پر خپله غاړه واخلي او په تدريجي ډول به له افغانستان نه د بهرنيو ځواکونو وتل پيل شي.

ددې تر څنګ دا هم ويل کېدل چې نړېواله ټولنه بايد افغان ملي اردو او ملي پوليس د هوايي ځواک ترڅنګ پر وسلو سمبال کړي، تر څو د مخالفينو مخه په اغېزمنه توګه ونيولای شي، دا هم ويل کېدل چې نړېوال ځواکونه به د ملي اردو او ملي پوليسو په مسلکي روزنه کې فعاله ونډه اخلي او ددې کار لپاره به د خپلو هېوادو کارپوهان استخداموي.

چې په نتيجه کې به يې افغان امنيتي ځواکونو پر وسلو د ښه ترا سمبالښت ترڅنګ مسلکي روزنه هم ليدلې وي او د مخالفينو د حملو د مخنيوي وړتيا به ولري.

که څه هم د افغان ملي اردو او ملي پوليسو ليکي د وګړنيز قوت په لحاظ ورځ په ورځ پياوړی کېږي او يو زيات شمېر افغان ځوانان د امنيتي ځواکونو په ليکو کې شاملېږي، چې په کمي لحاظ د پام وړ ښکاري.

ولې هغه څه چې په ننی نړۍ کې د امنيتي ځواکونو تقويه بلل کېږي، هغه له اړتياو سره سم د وسلو او مهماتو شتون او دهغو پر اغېزمن استعمال پوهېدا ده.

اوس چې دا دی د چنګاښ مياشت په راسېدو او د جمهور رئيس پر وينا برخليک جوړوونکې او ټاکونکې مراحل رانژدې کېږي. نه مو له داخلي او نه مو له بهرنيو رسنيو واورېدل، چې نړېوالې ټولنې د افغان ځواکونو د تجهيز په خاطر ملي اردو ته دومره وسلې او مهمات ور کړل او يا د افغان هوايي ځواک د تقويې لپاره له چورلکو پرته د جنګي الوتکو او مهماتو مرسته ورکړای شو. نه لا تراوسه افغان دولت په دې باب کوم اغېزمن ګام پورته کړی دی.

له بلې خوا مو دا هم وا نه ورېدل، چې له عسکرو پرته د ملي اردو منصبدارانو په پلانی برخه کې مسلکي زده کړې وکړې او د فراغت سندونه يې ترلاسه کړل، او يا دا چې پلانی، پلانی او پلانی نمبر افغان قل اردو د مسلکي زده کړو ترڅنګ په وسلو او مهماتو سمبال شوه، چې په لومړي سر کې به همدوی د ټاکليو سيمو د امنيت پاڅه پر غاړه اخلي.

که موږ د تاريخي حقايقو په رڼا کې دا ومنو، چې افغان مېړني ولس د تاريخ په اوږدو کې له خپلې خاورې او ملي او اسلامي نواميسو دفاع کړې او خپله وړتيا يې ښودلې ده، ولې دا هم بايد له ياده ونه باسو چې اوس د تورو او ډالونو زمانه تېره ده، اوس د اسونو، کجرو او اوښانو کتارونه په نظامي کاروانونو کې نه وي، اوس د ټانګونو، توپونو، چورلکو او جنګي الوتکو زمانه ده، اوس د کمپيوټر عصر دی او کمپيوټري وسلې اغېزمنې دي، اوس د مخابراتو تکنالوژۍ دومره پرمختګ کړی، چې د يوه هېواد د وګړی وګړی لېږد او حرکت ځارل کېدای شي، د نورو پرمختللو هېوادونو د قارپيما راکټونو، ميزايلو او اتومي ځواک په باب به هيڅ نه وايو، چې دا د هر ملت د خپلو هڅو، کوښښونو، خواری، اقتصادي پياوړتيا او پرمختګ پورې اړه لري.

ولې ددې حق لرو، چې ووايو:

نړېوالې ټولنې چې افغانستان ته د القاعدې او ترهګرو د ځالو د ختمولو او په افغانستان کې د امن قايمولو لپاره خپل ځواکونه دې هېواد ته راوستي وو او ددغو اهدافو لپاره يې تر اوسه زياتې مالي او ځاني قربانۍ هم پر ځانونو منلي او اوس که غواړي په تدريجي ډول خپل ځواکونه له افغانستانه اوباسي او د امنيت د ساتلو چارې افغان امنيتي ځواکونو ته وسپاري؛ دا هم بايد درک کړي چې که افغان امنيتي ځواکونه د امنيت د ساتنې لپاره لازمې وسلې او مهمات او ترڅنګ يې مسلکي روزنه ونه لري او د ګاونډيو او سيمې د هېواد لاسونه همداسې زموږ هېواد ته راغزېدلي پاتې وي، لرې نه ده چې افغان ولس پر يوه بله کورنۍ جګړه واوړي، چې هغه پخواني ناورينو نه به له خلکو هېر شي.

اوس دا د افغان دولت دنده ده چې په څه ډول د خپل هېواد امنيتي ځواکونه غښتلي کوي او ددې وړتيا يکې پيدا کوي، چې خپل امنيت پخپله وساتي، خو دا خبره بايد په ياد ولري، چې د چنګاښ مياشت په رارسېدو ده، دا موجوده رينجرې او يکې لګيدلې پيکاګانې بې وسلې خلک وېرولای شي، خو هغه ځوک چې مرګ يې پر ځان منلی وي، هيڅکله پر دغو رينجرو نه ايسارېږي او د ګوريلايي عملياتو په ترڅ کې ډېر ژر خپل اهميت له لاسه ور کوي.

که مخالفين سولې ته لېوال دي نو مشکل چېرته دی؟!

محمد خليل

د سولې عالي شوری مشر برهان الدين رباني او يو شمېر غړي يې چې د غبرګولی په ۱۴ مه د ولسي جرګې عمومي غونډې ته په تېرو څو مياشتو کې ددوی د فعاليتونو د

توضيحاتو په موخه غوښتل شوي وو، استاد برهان الدين رباني وويل: د سولې عالي شوری د افغان دولت له ټولو مخالفو وسله والو ډلو لکه حزب اسلامی او د حقاني ډلې له استازو سره په هېواد کې دننه او بهر خبرې کړي او مخالفينو د سولې له بهير سره لېوالتيا ښودلې ده. دده په وينا د سولې عالي شوری د کويټې د شوری له استازو سره څه هم موده وړاندې د عربي متحده اماراتو په ابو ظبی کې لېدنه کړې ده.

دهغه د څرګندونو له مخې د کويټې شوری استازو ويلي دي چې هغوی سولې ته لېواله دي خو په دې شرط چې څوک يې ونه وژني، بنديان يې نه کړي او ګوانتانامو ته يې ونه لېږي.

د استاد رباني له دغو څرګندونو څخه دا ترلاسه کېږي چې د افغان دولت له مخالفينو سره څه مشکل نه لري هغوی د سولې له خبرو اترو سره لېوالتيا لري که دهغوی د سر تضمين وشي نو د سولې په بهير کې ورګډېدو ته چمتو دي. پوښتنه داده چې که د دولت مخالفين رښتيا د سولې خبرو ته لېوالتيا لري او يو لړ ضمانتونو په ترسره کېدو له جنګ نه دلاس په سر کېدو ته چمتو دي نو بيا مشکل چېرته دی؟ او هغه کوم خنډونه دي چې د سولې مخ يې ډب کړی دی؟

د استاد رباني له خبرو خو داسې جوتېږي چې ټول مشکل بهرنيو ځواکونو او د افغانستان په حکومت کې دی چې دهغوی د غوښتنو په وړاندې پاتې راغلې دي که يوازې هغوی د سر ضمانت او يا له افغانستان څخه د پوځونو د ويستلو غوښتنه لري دا خو پر ځای غوښتنې دي. ناټو ځواکونه هم ۲۰۱۴ کاله پورې له افغانستانه د وتلو اعلان کړی او دايي هم ويلي دي چې موږ له مخالفينو سره د خبرو اترو ملاتړ کوو، په رسنيو کې خو ان تر دې هم رپوټونه خپاره شوي چې امريکا او طالبانو څو ځلې دوه په دوه د سولې خبرې اترې کړېدی، که دا هر څه حقيقت لري او هسې تبليغ نه دی نو بيا ولې د سولې بهير په چټکی سره مخ په وړاندې نه ځي؟ آيا د اعتماد کمې دی او که څه بل علت دی؟

که د اعتماد کمې وي نو ددې د ليرې کولو لپاره دې ژر تر ژره عملي ګامونه اوچت، او داسې يوه فضا دې راپيدا کړي چې د ټولو لوريو باور يقيني کړي، که واقعاً اخلاص موجود وي نو دا څه ګران کار هم نه دی، دهغوی د باور د ترلاسه کولو لپاره نورې لارې چارې هم شته.

جګړه چې څومره اوږدېږي له ځان سره نور مسايل او کړاوونه هم زېږوي کېدای شي چې دغه اوسني طلايي چانس له لاسه ووځي، د ګاونډيانو په شمول ډېر نور غرضي هېوادونه، نه غواړي چې په افغانستان کې د جګړې اور مړ او افغانان د امن په فضاء کې ژوند تېر کړي، څومره چې جګړه اوږدېږي مغرضو هېوادو ته د لاس وهنې نور فرصتونه هم ترلاسه کېږي. دې لپاره چې د داخلي او خارجي دښمنانو مخ تور شي او افغانان په ګډه دوروې په چوکاټ سوله ييز ژوند وکړي نو ددې خبرې کلک ضرورت دی چې د

وخت او شرايطو حساسيتونه درک کړي او د سولې يو داسې فارمولا وړاندې کړي چې سراسرد افغانستان د وګړو عقيده، استقلال او نور مجموعي ګټې تأمين او خوندي شوي وي. همدا خونديتوب کولې شي چې زموږ په وړاندې ټول ناخوالې او بې باورۍ فضأ له منځه يوسې او راتلونکې لپاره د سولې او امن په فضأ کې آرام ژوند تېر کړو.

قتلهای زنجیره یی و دستهای دخیل پشت پرده در آن

(بقیه از صفحه اول)

... از قتلهای زنجیره یی در مناطق قبایلی آنسوی خط دیورند گرفته تا اینسوی دیورند، در شرق و در جنوب و در غرب و اینک در شمال افغانستان. بدون شک این قتلهای زنجیره یی از روی یک پلان و یک استراتیژی خاص صورت میگیرد و اهداف بسیار خطرناکی درعقب آن نهفته میباشد و انگیزه های خاصی می داشته باشد؛ اما:

اولاً همین چند حادثه قتل انجنیر عمر والی کندز، عبدالرحمن سید خیلی قوماندان امنیهٔ کندز، جنرال خان محمد قوماندان امنیهٔ کندهار و امثال آن نیست، یا نبود که ما آنرا قتلهای زنجیره یی بدانیم، بلکه این قتلها از بسیار وقت در کشور ما متأسفانه در جریان است. ثانیاً تنها طالبان یا قوتهای بیرونی یا استخبارات منطقه نیست که دست بچنین اعمال ذمیمه میزنند، بلکه حلقات مختلفی از روی انگیزه های مختلف که در حقیقت این انگیزه ها هم خیلی ذمیمه است، دست به اعمالی زده اند که باید همه حلقاتی که دست بچنین قتلها میزنند و انگیزه هایی که از روی آن دست بچنین اعمال ناروا میزنند نیز شناسایی شود؛ شهادت استاد عبدالصبور فرید، شهادت داکتر خان آغا، شهادت محمد انور هردم شهید و امثال اینها هم قتلهای زنجیره یی بشمار می آید؛ زیرا آنها همه بدست گروههای خاص، از روی انگیزه های خاص و بخاطر اهداف خاص بشهادت رسانیده شدند که شناسایی قاتلین آنها هم چندان دشوار نیست.

متأسفانه امروز افغانستان یک خانهٔ بی درو بی دیوار را میماند که هر کس به بسیار ساده گی میتواند، اهداف خود را در آن تعقیب کند؛ همه کشورها، چه کشورهای همسایه و منطقه و چه کشورهای بزرگ، چه گروهها و چه هم افراد، حلقات مافیایی که بیشتر و سهل تر میتواند دست به اعمال تخریبی بزند.

برخی از گروهها، همه حوادث را به دیگران نسبت میدهند ولی آیا دامن خود اینها از «خونهای ناحق» پاک است؟ خیلی از خونها براساس عصبیتهای قومی و زبانی و حتی سمتی ریختانده شد و هنوز هم سلسلهٔ آن قطع نشده است. خیلی از خونها براساس منافع ریختانده شده است، هر کسی که بر سر راه منافع نارواي شان سد میشود او را از سر راه بر میدارند. طبق اطلاعات خیلی از بزرگان و مشران اقوام ساکن در شمال کشور، صدای اعتراض خود را تا گوش رئیس جمهور کشور رسانیده اند، براساس اطلاعات موصوله از شمال کشور، براساس عصبیتهای قومی تصفیه ها صورت گرفته است، براساس عصبیتهای تنظیمی تصفیه ها صورت گرفته است. متأسفانه اکنون مهری که بر روی آن تروریست نوشته شده است، بدست همین افراد و گروهها قرار گرفته است؛ از هر کسی که خوش شان نیامد، بر پیشانی اش مهر تروریست را میکوبند، یا خود علیه او اقدام میکنند یا آنرا به قوای ناتو معرفی میکنند. متأسفانه بخصوص در شمال کشور تصفیه های قومی صورت گرفته است و دهها هزار تن مجبور به ترک خانه و کاشانهٔ خود شده اند. طبق اطلاعات تنها در بلخ دهها نفر سران قومی ترور شده اند و قاتل هیچکدام هم معلوم نشده است، پس این قتلها به دست چه کسان و گروهها صورت گرفته است و چه مرجعی باید از آنها صیانت نماید؟ اگر در کابل حادثه یی رخ میدهد یا در کدام ولایت دیگر باز دولت مرکزی را مورد ملامت قرار میدهند که باید هم بدهند، چرا مسؤولیت خود را انجام نداده است؛ ولی «این توبه فرمایان چرا خود توبه کمتر میکنند؟»

به نظر من همهٔ ما از افراد گرفته تا گروهها و حلقات خاص و حتی تا سطح اقوام، همه باید در عملکردهای خود یک بازنگری اساسی بکنیم و در مورد بقای ملت و بقای کشور فکر کنیم و ببینیم که راه نجات کشور کدام است؟ افرادی که یک روز یک ماسک را بر چهرهٔ خود می اندازند و روز دیگر ماسک دیگر را این تغییر شکل دادنها نمیتواند حل کند، اینها خیلی هم اسپهای خود را قمچین کردند ولی نباید فراموش کرد که هر عروج برای خود نقطهٔ پایانی دارد و اینها روزی از اوج به اصطلاح عزت و قدرت به حضیض ذلت سقوط خواهند کرد. در کشور خود، کمونستها میگفتند به اصطلاح آنها انقلاب ما برگشت ناپذیر است ولی سرنوشت شان چه شد؟ پس افراد و گروههایی که با انواع معامله گریها سعی کرده اند بخود حیات تازه ببخشند، مطمئن باشند که نه چشم ملت کور است و نه چشم تاریخ.

حرف ما بر سر قتلهای زنجیره یی بود، ما باید قتل تنها چند نفر قتل زنجیره یی ندانیم بلکه این قتلها آنچنان که قبلاً اشاره کردیم، به سطح تمام کشور ادامه دارد؛ در شرق افغانستان، در جنوب افغانستان، در غرب افغانستان و این همه افراد این وطن اند، غم هر کدام شان غم ماست ولی اگر در خانهٔ دیگری غم بود ما بوق شادی بنوازیم و اگر در خانهٔ خود ما غم بود اشک بریزیم، انصاف نخواهد بود. ما باید تمام افراد و احاد ملت را سرمایهٔ این کشور بدانیم و غم همه را غم خود فکر کنیم به حرف اقبال بزرگوار:

تمییز رنگ و بو بر ما حرام است
که ما پروردهٔ یک نوبهاریم

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(نولسمه برخه)

مقدمه: ظهار د ظهر نه احستل شوی، شا یعني ملا ته وايي، او د ظهار معنا دا ده چې یو سړی خپلې ښځې ته و وایي چې ته په ما باندې داسې یې لکه زما د مور شا، ظهار په جاهلي زمانه کې طلاق حسابیده. ظهار په اسلام کې د وجود په ټولو غړو کیداي شي، لکه چې یو سړی خپلې ښځې ته و وایي ستا لاس په ما باندی داسې دی لکه زما د مور شا. اسلام ظهار - لکه څنګه چې په جاهلیه زمانه کې و- طلاق نه ګڼي، په ظهار کې الله پاک دې امت ته امتیاز ورکړ او په ظهار کې یې پرې کفاره چې د غلام ازادول دي ایښودي دي، که څوک غلام و نه لري باید دوه میاشتې پرله پسې روژې و نیسي، او که څوک د دې توان هم نه لري نو بیا دې شپیتو مسکینانو ته ډوډۍ ور کړي او دا ټول شیان یواځې د ښځې په خاوند دي، که چیرې ظهار د ښځې له خوا وشي حرام دی مګر په ښځې کفاره نه شته.

س ۳۴۹: چا لومړی په اسلام کې ظهار کړی دی؟

ځ: لومړی ظهار په اسلام کې د صامت زوي اوس کړی دی، د اوس ښځه چې د ثعلبه لور او د مالک لمسی وه خوله نومیده، خوله د خپل خاوند نه د شکایت په موخه پیغمبر علیه السلام ته ولاړه، و یې ویل: یا رسول الله ! زما خاوند زما مال و خوړ، زما ځواني یې ختمه کړه، ډیر بچیان مې ورته راوړل، تر دې چې زړه شوم او د بچو نه ولویدم نو په ظهار یې راته ځان خلاص کړ. پیغمبر علیه السلام ورته و ویل: ستا د مشکل په هکله مونږ ته هیڅ هدایت نه دی شوی. او په یو بل روایت کې راغلي چې پیغمبر علیه السلام ورته وفرمایل: همدومره پوهیږم چې ته پر هغه باندې حرامه شوي یې. خولې د پیغمبر علیه السلام سره خپلو خبرو اترو ته ادامه ورکړه تر دې چې دا آیت [قد سمع الله قول التي تجادلک فی زوجها و تشتکي الی الله و الله یسمع تحاور کما ان الله سمیع بصیر...الی قوله: وللکافرین عذاب الیم] نازل شو، پیغمبر علیه السلام ورته وفرمایل: یا خوله ! خوشاله اوسه، بیا یې ورته ذکر شوي ایاتونه ولوستل او ورته ویې ویل: چا چې ظهار ویلی وي هغه دې ښځې ته د نیږدې کیدو نه مخکې غلام ازاد کړي، خولې و ویل: کوم غلام ! قسم دی چې دا سړی زما نه بغیر بل هیڅوک نه لري، پیغمبر علیه السلام و فرمایل: که غلام نه وي نو دوه میاشتې پرله پسې روژې دې و نیسي، خولې و ویل: قسم دی چې که د ورځې درې ځله څښاک نه وی نو نظر به یې هم له لاسه ورکړی واي، پیغمبر علیه السلام و فرمایل: که په دې هم نه توانیږي نو شپیتو مسکینانو ته دې ډوډۍ ور کړي، خولې و ویل: له کومه ځایه ! یو ځل خوراک وي او هغه هم یو شان وي. راوي وایي: بیا پیغمبر علیه السلام یو څه اندازه داني را وغوښتې او خولې ته یې و ویل: د دې نه دې شپیتو مسکنانو ته ډوډۍ ورکړي او تاته دې مراجعه وکړي.

عمر او خوله: د یادوني وړ ده چې په دې هکله درته هغه څه چې د عمر او د ثعلبه د لور خولې - هغه ښځه چې الله پاک یې شکایت په اسمان کې اوریدلی- تر منځ تیر شوي دي وړاندې کړم. خولې عمر رضي الله عنه ولید، نو د ودریدو غوښتنه یې ځني وکړه، عمر رضي الله عنه و دریږد، او خولې ته را نږدې شو او غوږ یې ورته و نیولو، د ددوي ودریدل اوږده شول، کله چې د خولې خبرې خلاصې شوې او ولاړه، یو عرب و ویل: یا امیر المؤمنین د قریشو دا دومره خلک دې د دې بوډۍ لپاره په انتظار کې واچول ! عمر رضي الله عنه ورته و ویل: هلاک شې پوهیږې چې دا څوک ده؟ هغه عربي و ویل: نه، عمر و ویل: دا هغه ښځه ده چې الله پاک د دې شکایت د اوو آسمانونو بره اوریدلی دی، دا د ثعلبه لور خوله ده، قسم دی چې هغه زما نه د شپې د را رسیدو پورې هم نه وایي تللی، زه به ترې هم نه واي تللی تر څو د هغې مشکل حل شوی نه واي او که د لمانځه وخت راسیدلی واي نو ما به لونځ کړی واي او بیا به ورته راغلی واي تر څو مې د دې مشکل اوریدلی واي. دا د ظهار په هکله لنډ معلومات وه چې تاسو ته مې وړاندې کړل، خو فکر نه کوم چې تاسې به د سورت مجادلې د لوستلو نه مستغني کړي.

س ۳۵۰: کوم امیر د مکې د فتحې نه وروسته لومړی په مکه کې د جماعت لمونځ وکړ؟

ځ: هبیره د سهل زوي او د عجلان ثقفي لمسي، لومړی امیر و چې د مکې فتحې نه وروسته چې دی د مکې والي شو، د پیغمبر علیه السلام په امر یې په مکه کې د جماعت لمونځ ور کړ. مګر پیغمبر علیه السلام مطلقا هغه شخص دی چې په مکه کې یې د جماعت لمونځ کړی دی.

س ۳۵۱: چا د لومړي ځل لپاره د تراویح لمانځه د ادا کولو په موخه مساجد رڼا کړل؟

ځ: عمر رضي الله عنه لومړی شخص وه چې د روژې په میاشت کې یې د مساجدو د رڼا کولو فکر وکړ، تر څو خلک په اسانۍ سره د تراویح لمونځ او نور دیني شعایر ادا کړي. ویل کیږي چې علي رضي الله عنه د روژې په میاشت کې یوه شپه په ځني مسجدونو تیریده، و یې لیدل چې دننه او بهر رڼا وو، ویې ویل: الله پاک دې پر عمر رضي الله عنه قبر داسې رڼا کړي لکه څنګه یې چې مونږ ته مساجد رڼا کړي دي.

س ۳۵۲: چا لومړی دولس ساعتونه په اندازه کړل؟

ځ: عسکري په خپل کتاب (اوایل) کې یاد کړي چې نوح علیه السلام لومړی کس و چې دولس ساعتونه یې په دې موخه چې په کشتۍ کې پرې د لمانځه وختونه وپیژني اندازه کړل.

(نور بیا)

د دودیزې لویې جرګې ...

وکیل عبدالجبار، هلال الدین هلال، صادق مدبر، نورالله شاهرخي، حیات الله بلاغي، نوروز علي اعتمادي، وکیل حاجي محمد عبده، وکیل باز محمد جوزجاني، وکیل الحاج کرام الدین رضا زاده، حاجي الوک ککوزی، اوتارسنګهې عبدالخالق حسیني، شاه اقا صدیق مجددي، سناتور بازمحمد زرمتي، خالد فاروقي، علم راسخ، خلیفه قزل ایاق، ګلالي احکزی او سید محمد امین طارق د دغه کمېسیون غړي دي.

ولسمشر کرزي د روان کال په لومړیو کې اعلان وکړ، چې د افغانستان او امریکا تر منځ د ستراتیژیکو همکاریو پر موضوع د بحث لپاره به دودیزه لویه جرګه جوړه شي.

د افغانستان حکومت د ستراتیژیکو همکاریو سند، چې امریکا وړاندې کړی و، د رواني میاشتې په لومړیو کې یې ببرته ورته سپارلی دی.

کرزي ویلي دي، چې د ستراتیژیکو همکاریو په اړه د دې جرګې له لارې د افغانانو له نظر اخیستو او ملي توافق ته له رسېدو وروسته به دغه سند د تصویب لپاره ملي شورا ته ولېږل شي.

اوباما با تیم امنیت ملی ...

باراک اوباما سال گذشته با اعلام افزایش رقم سربازان امریکایی در افغانستان گفت در جولای ۲۰۱۱ خروج قوای خود را از افغانستان آغاز می کند.

آژانس خبری فرانس پرس گزارش می دهد که مقامات ارشد ملکی و نظامی ایالات متحده از ساعت ۱۰ صبح دوشنبه به وقت محل جلسه ماهانه شان را برای بررسی وضعیت افغانستان و پاکستان در سالون موسوم به سیچویشن روم آغاز کردند.

فرانس پرس می نویسد، این جلسه بیشتر از یک ماه بعد از کشته شدن اسامه بن لادن رهبر شبکه القاعده در نزدیکی اسلام آباد توسط کماندوهای امریکایی برای اولین بار در حالی برگزار می شود که مخالفت مردم در امریکا با جنگ افغانستان روبه افزایش است و کاسه صبر کانگرس نیز رو به لبریز شدن.

کشته شدن اسامه بن لادن تقاضاها برای خروج سربازان امریکایی از افغانستان را در آن کشور بیشتر ساخته و از اوباما خواسته می شود تا طبق تعهد قبلی خود خروج سربازان را در ماه جولای از افغانستان آغاز کند.

اوباما این تعهد را در دسمبر سال ۲۰۰۹ پیش از اعزام سی هزار سرباز اضافی به افغانستان کرده بود. اما رابرت گیتس وزیر دفاع ایالات متحده روز دوشنبه در جریان دیدارش از افغانستان هشدار داد که در ارتباط به خروج قوا از افغانستان از عجله کار گرفته نشود.

گیتس در سخنرانی به سربازان امریکایی در شرنه مرکز پکتیکا گفت، باوجود کشته شدن اسامه بن لادن هنوز زود است که قوای شان را از افغانستان خارج سازند.

اما روزنامه نیویارک تایمز گزارش می دهد که تیم امنیت ملی رییس جمهور اوباما بعد از مرگ بن لادن خواهان خروج تعداد بیشتر سربازان امریکایی نسبت به گذشته از افغانستان است.

بر اساس گزارش نیویارک تایمز انتظار می رود که اوباما درماه جاری در خطاب به ملت خود تصمیم در باره خروج سربازان امریکایی از افغانستان را اعلام کند.

خروج سربازان خارجی از...

لشکرگاه آمادگي کامل دارند و وقوع رویدادهاي کوچک امنیتي مانع واګذاري امنیت نخواهد شد.

وي در مورد خروج پیش از موعد مقرر نیروهاي خارجي از ولایت هلمند گفت: برنامه رسمي خروج تاکنون آغاز نشده، اما به منظور ارتقا و آزمایش ظرفیت نیروهاي افغان برخي مناطق تخلیه مي‌شوند و نیروهاي افغان جایگزین سربازان خارجي مي‌شوند.

بر اساس توافق ناتو و دولت افغانستان، در مرحله اول واګذاري مسئولیت تأمین امنیت افغانستان به نیروهاي افغان، تأمین امنیت هفت شهر و ولایت به نیروهاي افغان واګذار مي‌شود که لشکرگاه مرکز ولایت ناآرام هلمند جزء این هفت منطقه است.

"عبدالجبار قهرمان" نماینده ولایت هلمند در پارلمان افغانستان، در مورد توانمندي نیروهاي افغان براي تأمین امنیت این ولایت پس از خروج نیروهاي خارجي می گوید: هیئتي به منظور بررسي توانمندي نیروهاي افغان به ولایت سفر کرده بود و ارزیابي کرده است که نیروهای افغان توانایي تأمین امنیت این ولایت را دارند.

وي که خود عضو این هیئت بوده است، افزود: اردوی ملي، نیروهاي استخباراتی و پولیس افغان از توانایي کامل براي تامین امنیت این ولایت پس از خروج نیروهاي خارجي برخوردار هستند.

د افغانستان او پاکستان په ...

پاکستان له پوځي چارواکو سره په لا ډېرې همغږی سره د دې ستونزې د اواري لپاره کار کوو او زه فکر کوم، چې په دې برخه کې د پاکستان د پوځیانو او د افغان او ایساف ځواکونو ترمنځ همکاري اوس له بل هر وخت نه ډېره شوې. "د ریپوټونو له مخې په تېرو څو کلونو کې افغانستان ته د وسله والو مخالفینو د اوښتو د مخنیوي مسئله د افغانستان، پاکستان او ناټو د چارواکو د بحثونو او خبرو یو مهم ټکی پاتې شوی.

خو په دې برخه کې له بیا بیا خبرو او ژمنو سره سره هم داسې کوم اقدام نه دی پورته شوی، چې د دې ستونزې مخنیوی دې وکړای شي.

پوښتنه داده، چې د دې سلګونو کیلومتره پرانیستې پولې کنترول څومره شونی دی؟

د سیاسي او پوځي چارو شنونکی نورالحق علومي له ازادی راډیو سره په خبرو کې دا کار شونی وباله، خو ویې ویل، چې د پاکستان او ناټو صادقانه همکاری ته اړتیا لري: "که پاکستان په رښتیا سره خپله همکاري وکړي، نو ژر ده، چې دا لړی به پای ته ورسیږي."

د پولې د کنترول په برخه کې په افغانستان کې پر نړیوالې ټولنې هم نیوکې کیږي، چې په تېرو لسو کلونو کې یې د افغان سرحدي ځواکونو د شمېر په لوړولو او تجهیزولو کې لازمه مرسته نه ده کړې.

خو نړیواله ټولنه او په سر کې یې د امریکا متحده ایالات بیا دغه نیوکې ردوي او وايي، د افغان ځواکونو د پیاوړي کولو لپاره یې ګټور ګامونه اوچت کړي او په دې برخه کې د مرستو او همکارېو دوام ته ژمن دي.

افغانستان د نړۍ والو رسنيو په هنداره كې

نشنل انټرسټ:
نشنل انټرسټ خپرونې د افغانستان د امنيتي ځواكونو په اړه يوه مقاله خپره كړې او ليكي، له ډېرو افغانانو سره چې په ۱۹۸۹ كال كې له افغانستان د شوروي د ځواكونو وتل په ياد لري، له دې هيواده په نږدې راتلونكې كې د امريكايي عسكرو د وتلو په اړه وېره پيدا شوې چې ګوندې بيا به هيواد د ۱۹۹۰ كال كورنيو جګړو كې ښكيل شي.
د مقالې د ليكوال په وينا كه امريكا او ناټو پرېښږدي چې افغانستان بيا پرېوه ناكامه دولت بدل شي نودې هيواد ته په كار ده چې يوه قوي، ګڼ قومي او مهارت لرونكې اردو ولري. دا به نسبتا يوه كوچينۍ اردو وي.
د نشنل انټرسټ خپرونې په‌وينا په زياتو وروسته پاتې ټولنو كې پوځ د دولت قوي اركان دي، چې د ګډوډيو او نظم ترمنځ وروستى مانع بلل كيږي.
افغانستان هم استثنا نه دى. كله چې په ۱۹۸۹ كال كې شوروي له افغانستانه ووتله، د كابل حكومت ځو كاله نور هم ځان ټينګ كړ، خو كله چې اردو منحله شوه هيواد په بيره د كورنۍ جګړو په ډګر بدل شو.
نشنل انټرسټ خپرونه وړاندې ليكي، كه طالبان د امريكايي ځواكونو له وتلو وروسته خپل فعاليتونه زيات كړي او د كابل د نيولو لپاره ملاوتړي چې د خپرونې په وينا دوى به دغه كارهم وكړي. د افغانستان كمزورى حكومت او په اداري فساد ككړ وزيران به بې ونه شي كولاى چې د حكومت د نسكوريدو مخه ونيسي او نه به هم كمزوري روزل شوي پوليس چې ښه نه دي مجهز په ولسواليو كې وكولاى شي، چې د طالبانو د پرمختګ مخه ونيسي. دا يواځې د وسله والو ځواكونو كار دى.
نشنل انټريسټ خپرونه وړاندې ليكي، د افغانستان د امنيتي ځواكونو د شمير په زياتوالي سره د دغې ستونزې مخه نه شي نيول كيداى بلكې ناټو او امريكا ته په كار ده، چې د افغانستان د ملي اردو كيفيت ته ډيرپام واړوي او يوه داسې اردو رامنځ ته كړي، چې د ټولو قومونواستازيتوب وكړي.
يوه اردو چې د هيواد ملي ګټو ته ژمنه وي او يواځې له هيواد څخه په دفاعي چارو تمركز وكړي او وسله وال پرې نږدې چې هيوا له ګواښ له ګواښ سره مخ كړي.

The New York Times

له افغانستانه د زياتو عسكرو ايستل يو د اوباما له انتخابونو دی

نيويارك ټايمز:
نيويارك ټايمز ورځپاڼې له افغانستانه د بهرنيو ځواكونو د وتلو په اړه يوه مقاله خپره كړې او د پيل په كرښو كې ليكي، د ولسمشر باراك اوباما د ملي امنيت ډله په افغانستان كې د ځواكونو د كمولو په اړه غور كوي او ښايي دغې پروسې ته له هغه څه نه چې په وروستيو ورځو كې پرې بحث كيده، ډيرسرعت وركړي.
يوشمير چارواكو ويلي، چې دغه اقدام اوس څكه توجيه كيداى شي، چې له يوې خوا د دغې جګړې لګښت زيات شوى اوله بلې خوا هم د القاعده د مشر اسامه بن لادن په وژلو سره د دوى په وينا د دې زمينه برابره شوې، چې پرستراتيژۍ له سره غور وشي.
نيويارك ټايمز وړاندې ليكي، له افغانستانه د زياتو عسكرو ايستل يو د اوباما له انتخابونو دى. د ملي امنيت شورا د افغانستان او پاكستان په اړه د دوشنبې په ورځ مياشتنۍ غونډه كوي، كه څه هم د ځواكونو د كمولو پرموضوع جلا بحثونه پيل شوي، خو د دغې غونډې ارزيابى به په هغې پريكړه كې رول ولوبوي چې څه شمير عسكر له دې هيواده وايستل شي.

روسيه: د بن لادن له مرگ سره د ترهگرۍ په جنگ کې مهم پرمختگ نه دی شوی

تاند وېبپاڼه:
د روسيې د امنيت شورا عمومي منشي نيكولاى پتروشيف د دوشنبې په ورځ په نوي ډيلي كې خبريالانو ته وويل چې د اسامه بن لادن له وژل كېدو سره سره د ترهګرۍ پرضد په جګړه كې د پام وړ مهم پرمختګ نه دى شوى.
پيتروشيف دا څرګندونې د هند د صدراعظم د ملي امنيت له سلاكار شيوشنكر مينون سره له خبرو وروسته وكړې.
ده وويل چې دا مهال لا د افغانستان او پاكستان د پولو په اوږدو كې د ترهرګرۍ پرضد د پرمختګ څرك نه لګېږي.
پيتروشيف وويل: "د افغانستان ستونزې لا هم حل شوې نه دي، د افغانستان او پاكستان د پولو په اوږدو كې د سخت دريځو او تروريستانو روزنه دوام لري."
امريكايي چارواكي هم وايي چې لا وختي ده چې د افغانستان پر حالاتو د اسامه بن لادن د مرګ د اغېزو په باب څه ووايي. پرون د امريكا دفاع وزير رابرټ ګېټس په افغانستان كې وويل "لا ډېر وختي دى چې وويل شي ايا د بن لادن وژل كېدو د افغانستان پر جګړې اغېز كړى او كه دى."
تر دې مخكې نورو امريكايي چارواكو ويلي و چې د بن لادن مرګ به د افغانستان پر حالاتو په اوږدمهال كې اغېز ولري.
د روسيې د ملي امنيت شورا عمومي منشي د هند او پاكستان د اړيكو په باب وويل چې د دغو دوو اتومي هيوادونو د اړيكو عادي كېدا د ترهرګرۍ پرضد له جګړې سره مرسته كولى شي.
ده دا هم وويل: هند او پاكستان ځانګړې اړيكې لري او موږ نه غواړو چې په هغو كې بدلون راولو، خو ځيني ګواښونه شته چې د ټولو لپاره اندېښنې جوړوي- نړيوال تروريزم يادوم. او ټولې خواوې دا درك كوي چې بايد له دې ستونزې سره په ګډه مقابله وشي.

رئیس شورای علمای افغانستان در دیدار با هیئت شورای امنیت سازمان ملل:

مردم افغانستان از نیروهای خارجی و عملکرد آنها بیزارند

خبر گزاري فارس:
رئیس شورای علمای افغانستان در دیدار با هیئت شورای امنیت سازمان ملل متحد در کابل، با انتقاد از عملکرد نیروهای خارجی در افغانستان تأکید کرد که انزجار مردم از این نیروها روز به روز بیشتر می‌شود.
به گزارش خبرنگار خبر گزاري فارس در کابل، هیئت شوراي امنیت سازمان ملل متحد به ریاست "پیتر کینگ "سفیر دائمي "آلمان" در این شورا شب گذشته با مقامات شورای علمای افغانستان دیدار و گفت‌وگو کرد.
"مولوي قیام‌الدین کشاف "به اعضای این هیئت هشدار داد که اگر به عملیات‌های خودسرانه این نیروها که به کشته شدن مردم بیگناه منجر می‌شود، پایان داده نشود، مردم افغانستان با آنان به عنوان اشغالگر برخورد خواهد کرد.
کشاف ایجاد ساختارهای موازی در دولت افغانستان را نیز به عنوان نقض حاکمیت ملی این کشور ارزیابی کرد و گفت: نیروهای خارجی به جای حمله به تروریستان، زنان و کودکان افغان را مورد حمله قرار می‌دهند.
رئیس شورای علمای افغانستان افزود: نیروهای خارجی سبب شده اند که افغانستان به عنوان یک منطقه ناامن در جهان شناخته شود.
کشاف با بیان این که برخي از رسانه‌هاي خصوصی افغانستان، خلاف عقاید دینی مردم مطالبی را منتشر می کنند، تصریح کرد که این رسانه‌ها با پول غربی‌ها در این کشور فعالیت مي کنند.
در این دیدار هیئت شوراي امنیت سازمان ملل متحد از نقش علما در افغانستان قدرداني کرد و افزود: خواست این شورا پایان بخشیدن به جنگ و تأمین صلح در افغانستان است.

حضور دائمی امریکا در افغانستان...
حضور امریکا در خاک افغانستان، منافع کشورهای مانند پاکستان، ایران، چین و روسیه به خطر بیافتد، این کشورها واکنش نشان خواهند داد و سر انجام به جنگ منطقه‌ای و حتی فرامنطقه‌ای منجر خواهد شد، به همین دلیل وجود پایگاه‌های نظامی دائمی امریکا در خاک افغانستان، به نفع افغانستان، کشورهای منطقه و حتی جهان نخواهد بود.
وی خاطرنشان کرد، امریکا در صدد دستیابی به منافع استراتژیک خود در منطقه است و آنان بر این باورند که این منافع میتواند از طریق انعقاد پیمان استراتژیک با افغانستان به دست آید.
راشد با بیان این که همکاریهای ۱۰ ساله افغانستان و امریکا برای سرکوبی دشمنان صلح و امنیت تا کنون هیچ دستاوردی نداشته است، افزود: عملکرد نیروهای خارجی سبب خشم و انزجار رئیس جمهور افغانستان نیز شده است.
رئیس اکادمی علوم افغانستان گفت: هیچ تضمینی از جانب امریکا برای بهبود وضعیت افغانستان وجود ندارد، زیرا امریکا یک قدرت بزرگ در نظام بین الملل است و افغانستان کشوری بسیار کوچک و بیدفاع، که هیچ گونه موازنه‌ای در این خصوص برقرار نیست.
راشد خاطرنشان کرد: با توجه به ماهیت قدرت در سطح نظام بین الملل، امریکا در صدد است تا منافع آن کشور هر چه بیشتر در این پیمان تأمین گردد و این از خصوصیت بارز نظام‌های قدرتمند دنیاست.
انعقاد پیمان استراتژیک میان افغانستان وامریکا از مباحث جنجال برانگیز درافغانستان وحتی منطقه است که در ماه‌های اخیر حجم زیادی از مطبوعات افغانستان و جهان را به خود اختصاص داده است.
دولت افغانستان پیش‌نویس این پیمان را جهت بررسی به دولت امریکا سپرده است و قرار است برای تصویب و یا رد آن لویه جرگه در افغانستان برگزار شود که به گفته مقامات، تصمیم نهایی را در این مورد اتخاذ خواهد کرد.
چندی پیش "حامد کرزی"، دستور برنامه‌ریزی برای برگزاری این جرگه را صادر کرد، اما در همین حال عده‌ای از تحلیل گران سیاسی و حقوقی افغانستان، چنین جرگه ای را فاقد مبنای حقوقی میدانند.

د ازبکستان له لارې سوداګري ...
لګښت راخې او دغه كار د دې لامل شوى، چې افغان سوداګر په كال كې شاوخوا پنځه ميليونه ډالر له لاسه وركړي.
د هغه په خبره، د كېښتيو له لارې د توكو لېږد نه يواځې افغان سوداګرو ته مالي زيان اړوي، بلكې له دې لارې بې لېږد ډېر وخت هم غواړي.
دى نيوكه كوي، چې د افغانستان حكومت په دې اړه له ازبكي چارواكو سره په جديت خبرې نه دي كړې.
نوموړي غوښتنه وكړه، چې د افغانستان حكومت دې ژر ترژره د دې ستونزې د حل لپاره اقدام وكړي.
د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو وزير انورالحق احدي هم منې، چې ازبكستان د افغان سوداګرو توكو ته له حيرتان بندر څخه په اورګاډي كې د لېږد اجازه نه وركوي.
ده پژواك خبري اژانس ته دا هم وويل، چې په كېښتيو كې د صادراتي توكو لېږد افغان سوداګر له ستونزو سره مخ كړي دي.
خو هغه زياته كړه، چې د افغانستان حكومت ځو ځلې له ازبكي چارواكو سره په دې اړه خبرې كړې دي،
د ده په وينا، ازبكي چاراكي وايي، چې په اورګاډو كې د افغان سوداګرو د توكو لېږد به د قاچاق لپاره لارې چارې برابرې كړي.
احدى زياته كړه، چې په نږدې راتلونكې كې به د دې ستونزې د حل په موخه له ازبكي چارواكو سره بيا هم خبرې وكړي.

ولسمشر كرزى به پاكستان ...
خبرپاڼه كې ويل شوي، چې جاوېد لودين پرون مازيګر په بهرنيو چارو وزارت كې د دولت له وزيرې حنا رباني كهر سره د هغې په دفتر كې وليدل.
په خبرپاڼه كې راغلي، چې دواړو لوريو د ترهګرۍ پر وړاندې په روانې مبارزې، سوداګريزو اړيكو او نورو موضوعاتو خبرې وكړې.
سرچينه زياتوي، چې لودين له افغانستان سره د پاكستان د مرستو ستاينه وكړه او د ترهګرو پرخلاف يې د اسلام اباد د دريځ ملاتړ وكړ.
د سياسي چارو كارپوه او په افغانستان كې د پاكستان پخوانى سفير رستم شاه مومند په اوسنيو حالاتو كې اسلام اباد ته د ولسمشر كرزي سفر ډېر مهم بولي.
هغه پژواك اژانس ته وويل، اوسني حالات د دې تقاضا كوي، چې اسلام اباد او كابل د يو او بل ګټې په پام كې ونيسي او خپلې اړيكې پياوړې كړي.

په روان کال کې به ۷۲۹ محصلین د لوړو زده کړو لپاره پاکستان ته لاړ شي

كابل، پژواك:
په كابل كې د پاكستان سفارت وايي، چې په روان كال كې به ۷۲۹ افغان محصلين د لوړو زده كړو لپاره دغه هيواد ته ولاړ شي.
په كابل كې د پاكستان سفارت لخوا د غبرګولي په ۶مه، پژواك خبري اژانس ته په يوه راليږل شوېخبرپاڼه كې ويل شوي ،چې‌دا افغان محصلين به د ليسانس او مافوق ليسانس تحصيل لپاره د پاكستان د وړيا بورسونو له لارې دغه هيواد ته واستول شي.
خبرپاڼې په افغانستان كې د پاكستان د سفير محمدصادق خان له خولې ليكلي ، چې دغه بورسونه د طب، انجنيرى، معلوماتي ټكنالوژۍ ، تجارت او اداري، كرنې ، اقتصاد ، طبيعي علوموا‌و د ښوونې او روزنې په برخه كې دي.
سرچينه زياتوي، چې د محصلينو تګ به د روان ميلادي كال تر وروستيو بشپړ شي.
د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې، له دغوبورسونو څخه ۶۰۰د هغو ۲۰۰۰بورسونو برخه ده، چې په تېر ۲۰۰۹كال كې د پاكستان د حكومت له لوري افغان محصلينو لپاره اعلان شويو .
خبرپاڼه زياتوي، چې پاتې ۱۲۹نورتحصيلي بورسونه د پاكستان او افغانستان د پوهنتونونو د همكاريو د پروګرام له مخې، د پنجاب او خيبر پښتونخوا ايالتونو د پوهنتونونو لخوا وركول كېږي.
د پاكستان سفير وايي ، چې په افغانستان كې د ډاكټرانو اړتيا ته په كتو سره ۱۲۰بورسونه د طبي علومو لپاره ځانګړي شوي دي.
خبرپاڼه كاږي ، چې دغه محصلين به له انګليسي ژبې او طبي اصطلاحاتو سره د اشنايى په موخه د انګليسي ژبې تر شپږ مياشتني كورس وروسته، خپلې زده كړې پيل كړي.
د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې ،له تېر ۲۰۰۹كال راهيسې ۷۰۰تنه افغان محصلين دې هېواد ته د لوړو زده كړو په موخه د بورسونو له لارې تللي دي، چې په بېلابېلو تحصيلي برخو كې په زده كړو بوخت دي.
خبرپاڼې د سفير له خولې ليكلي ، چې اوسمهال د پاكستان په پوهنتونونو كې د افغان محصلينو شمېر ۶۵۰۰تنو ته رسېږي، چې تر راتلونكيو دريو كلونو پورې به دغه شمېره لسوزرو تنو ته ورسېږي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اوونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونكی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "كامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

د اړيكو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونيزه د هر ليكوال او د نظر خاوند د ليكنو هركلى كوي.
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليكوال ليكنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح كړي چې د ليكنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - يوازې سرليكنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ديزاين: خواجه وحيدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مركزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مينه ، كابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com